**الدرس الرابع** **څلورم درس**

**النبوت** **د محمد ﷺ پیغبری**

دنبی کریم ﷺ عمرمبارک چی څلویښتو کالو ته نزدی ورسیدو نو نبی کریم ﷺ په غار حراء کښې د ځانله والی او خلوت ژوند تیرول شروع کړل ، غار حراء د مکي مکرمی نه مشرق طرفته یو غر کښې موجود وو چی نبی کریمﷺ به کله مسلسل څو شپې هلته وو، او د الله تعالی بندګی به ئے کوله، دلته د رمضان د میاشتی (٢١) یوی شتمه نیټه وه ، نبی کریم ﷺ غار حراء کښې وو ، څلویښت کاله عمر ئے پوره شوی وو چی جبریل علیه السلام ورله راغلی ، ورته ئے ووئیل : اُولوله ! نبی کریمﷺ ورته ووئیل : زه لوستلونکی نه یم ، دغه خبره جبریل علیه السلام دریے ځل دوهراؤ کړه، لیکن نبی کریم ﷺ ورله هغه جواب ورکولو چی زه لوستونکی نه یم ، په دریم ځل جبریل علیه السلام ووئیل: [ اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالقَلَمِ، عَلَّمَ الإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ] {العلق:٥} ترجمه: اُولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چی پیدائش ئے کړی دی (١) پیداء کړی دی انسان د ټکړی د وینې نه (٢) ولوله همیشه او رب ستا ډیر عزت والا دی (٣) هغه ذات چی تعلیم ئے ورکړی دی په قلم سره (٤) تعلیم ئے ورکړی دی انسان ته د هغه څیز چی دی پری نه پوهیدو ، هغه ملائک بیا واپس شو ، ددی نه پس نبی کریم ﷺ غار کښې د هیساریدو طاقت ونه لرلو نو کور ته راغلي ، کله چی د خدیجه بی بی خواء ته وررسیدو نو زړه ئے درزیدو، نبی کریم ﷺ وفرمایل : (**زَمِّلُونِي، زَمِّلُونِي**) ما په کمبل کښې پټ کړه ، ما په کمبل کښې پټ کړه ، نبی کریم ﷺ ئے په کمبل کښې پټ کړو ، تردی پوری چی یره تری ختمه شوه ، بیا ئے ټوله قصه خدیجے رضی الله عنها ته بیان کړه ، بیا ئے ورته وویل : زه پخپل ځان ویریږم، خدیجے رضی الله عنها ورله تسلئ ورکړه چی قسم په الله هیچری به هم الله تعالی تا ناکامه نه کړی ځکه چی ته خپلولی پالے ، خلقو سره مدد کوی، بے روزګاره ته کسب لټوی ، میلمنو له میلمستیا ورکوی ، د حق په باره کښې چی مشکلات راځی هغی کښې د خلقو مدد کوی ، د څو ورځو نه پس نبی کریم ﷺ دوباره غار حراء ته د عبادت دپاره لاړو ، کله چی د عبادت نه فارغه شو، مکے مکرمی ته واپس رِاروان وو، په لاره کښې جبریل علیه السلام کرسی باندی ناست د آسمان او زمکے په مینځ کښې ولیدو، جبریل امین ددیے آیتونو وحی وکړه :[يَاأَيُّهَا المُدَّثِّرُ، قُمْ فَأَنْذِرْ، وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ] {المدَّثر:٦} ترجمه: اے کمبل کښې ځان انغختونکیه ! اُودریږه نو ویره ورکړه ، او خاص د رب خپل لوئی وایه ، او جامی خپلی پاکئ ساته ، او هری پلیتئ نه ډډه اُوکړه ، ددی نه پس د وحی سلسله شروع شوه ، پرله پسی وحی راتلله ، کله چه نبی کریم ﷺ د دعوت آغاز وکړو ، اول د ایمان په آواز باندی لبیک د هغه بی بی خدیجه رضی الله عنها اووئیلو، د الله د وحدانیت ګواهی ئے وکړه ، او د نبی کریم ﷺ رسالت ته ئے ځان تسلیم کړو ، او په اسلام کښې د ټولو نه اول ئے اسلام قبول کړو ، رسول الله ﷺ ددی نه پس د خپل نزدی دوست ابوبکر صدیق سره خبره وکړه ، هغه هم خبره ومنله ، او ایمان ئے راوړو ، ذره برابر شک ئے هم ونکړو ، چونکه ابو طالب د نبی کریم ﷺ مور او د نیکه د وفات نه پس پرورش کړی وو، ددی وجی نه چی کله نبی کریم ﷺ په خپلو خپو اودریدو ، نو د خپل تره ابو طالب څوی د علي رضي الله عنه د کفالت ذمه واری ئے أغستلی وه، پدي ماحول کښې الله تعالی د علی رضی الله عنه سینه د اسلام دپاره پرانستله ، او اسلام ئے قبول کړو، د دوی نه پس د خدیجے رضی الله عنها غلام زیدبن حارثه ایمان راوړو، نبی کریم ﷺ پټ پټ د اسلام دعوت چلولو ، او مسلمانانو خپل اسلام پټ کړي وو ځکه که قریشو ته به پته ولګیده چي چا اسلام قبول کړی دی ، هغه له به ئے سزاګانئ ورکولی چی د اسلام نه واپس شی .